

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته نامـه آبـادی

ګڼــه: ۳۲ | مسلسل نمبر: ۱۲۲
پنجشنبه، د جمادی الأولی ۲۲مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## ملي تدارکاتو کمېسيون د ۳,۳ ميلیارده افغانيو په لګښت ٦ پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بلخ ولایت د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې کمېسيون له مسوولينو سره وکتل



۲مه صفحه

## پر پاکستان د سوداګرۍ د تکيې کمولو لپاره د هېواد صنعتکارانو، ســـوداګرو او د مالېې محترم وزارت استازو په ګډون جوړې شوې غونډې ته د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وينا:



۴مه صفحه



# سرلیکنه

اوبه د بشري ژوند يو مهم عنصر دی چې د ښـــارونو په پراختيا او پرمختګ کې يې ارزښتناک رول لوبولی دی. له دې امله زياتـــره هېوادونه په دې هڅه کې دي چې وکولای شي د اوبو د کمښت ستونزې ته رسېدنه وکړي. په بېلابېلو هېوادونو کې د ښاري اوبو د مديريت له پاره نوې تګلارې په دې تېرو دوو لسيزو کې تجربه شوې او هڅه داده چې داســـې لارې چارې ولټول شي، څو له مخې يې ښاري اوبه په سم او معياري ډول مديريت او د اوبو د کمښت ستونزې ته پای ورکړل شي.

په کابل ښـــار کې د څښــــاک او نورو اړتيا وړ اوبو د پوره کولو لپاره د خلکـــو ټوله تکيه يوازې په ترځمکه لاندې اوبو باندې ده. له همدې امله په کابل ښـــار کې ورځ تر بلې د اوبو کچه په ټيټېدو ده. د ښار په زياترو سيمو کې اوسمهال د زياترو څاګانو اوبه وچې او له دې امله زياتره خلک له ستونزو سره مخ دي.

افغانســـتان په تېره بيا د کابل ښار تر ځمکې لاندې اوبو پـــه برخه کې نه په علمي او نـــه په نظري ډول اغېزناک ګامونه پورته شـــوي او نه ورته چا عملي کار کړی دی، ان د ښار اوسېدونکو او اړوندو ادارو ته دا ستونزه هېڅ ستونزه نه ده ښکاره شوې او سترګې پرې پټې شوې دي.

کلونو وچکالۍ، د خلکو له خوا د زياتو اوبو مصرفولو او له ژورو څاګانو څخه د لمريزې برېښـــنا په مرسته د پرېمانه اوبو را ايستل او په نړيواله کچه د تودوخې زياتېدل ټول هغه لاملونه دي، چې وچـــکالي يې د ناورين کچې ته رسولې ده او د ځمکې د سر اوبو ترڅنګ يې تر ځمکه لاندې اوبو هم ناوړه اغېزه کړې ده. له دې اغېزو څخه افغانســـتان په ځانګړي ډول کابل ښار هم بې برخې نه دی پاتې شوی. دا ستونزه اوس نه، بلکې شاوخوا له شلو کالو راهيسې راروانه ده او ورځ تر بلې په دې ښار کې د اوبو کچه مخ په ټيټېدو ده.

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دې برخې زياته پاملرنه شوې ده. د اسلامي امارت لومړی ګام دا و چې په کابل ښـــار او شاوخوا سيمو کې يې د ژورو څاګانو په کيندلـــو بنديز ولګاوه او اوســـمهال چاته د دې اجازه نه ورکول کېږي چې په خپل سر داسې څاګانې وباسي. د دې ترڅنګ يې اوس دا دی د پنجشير، شاه او عروس او شـــاه توت بندونو څخه د کابل ښار ته د څښاک اوبو برابرولو په برخه کې ګام پورته کړی دی. د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو دولتي شرکت ويلي، چې د کابل ښار د پاکو اوبو د برابرولو لپاره يوه ستره پروژه پيل شوې ده. په دې پروژه کې به د پنجشېر، شاه او عروس او شاه‌توت له بندونو اوبه کابل ښـــار ته لېـــږدول کېږي. د ياد شرکت رييس غلام رحمن کظيم ويلي، چې د پروژې د سروې چارې په ۱۷مه، ۱۱مه او ۱۵مه ناحيو کې تر ۸۰ سلنې بشپړې شوې دي او له شاه‌توت بند څخه د اوبو د انتقال سروې هم روانه ده. د دې پروژې په بشپړېدو سره به له يوه لوري کابل ښـــاريان د څښـــاک پاکې اوبه ترلاسه کړي، له بل لوري به ترځمکه لاندې اوبو کچه بيرته لوړه شي. د اوبو په پيدا کېدو سره به لکه څنګه چې مخکې وويل شـــول، اقتصـــادي چارې ګړنـــدۍ او اقتصادي پرمختګ به رامنځته شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

## ملي تدارکاتو کمېسیون د ۳,۳ میلیارده افغانیو په لګښت ۶ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ نن د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۸مه نېټه د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دې غونډې ته ۱۸ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له هراړخیز بحث وروسته د ۳ میلیارده او ۳۲۱ میلیون افغانیو په ارزښت ۶ پروژې



منظورې شوې او په ۶ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل. همدارنګه د ځلورو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د پروژو د قیمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په همدې ډول یوه پروژه بیاځلي ازادي داوطلبۍ ته وسپارل شوه او د بلې پروژې په اړه بیا اړوندې ادارې ته هدایت وشو، چې تدارکاتي پروسه یې له سره و ارزوي او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

په منظور شوو پروژو کې د بادغیس ولایت د قادس خوردک ولسوالۍ د اوبو ذخیروي بند، د پروان ولایت د بګرام او کوه ساپي ولسوالیو ترمنځ غځېدلی سړک، د جوزجان ولایت قوش‌تیپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسول او همداراز په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بلخ ولایت د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې کمېسیون له مسوولینو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر په ترڅ کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۵مه نېټه په بلخ ولایت کې د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې لپاره د ټاکل شوي کمېسیون له مسوولینو سره د ولایت په مقام کې وکتل.



په لومړي سر کې د دغه کمېسیون مسوولینو د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې په موخه په مختلفو برخو کې د ترسره شوو کارونو راپور وړاندې کړ. هغوی وویل، تر دې مهاله د ټولو ټپیانو درملنه شوې ده، زیانمنو شوو ته لومړني خوراکي توکي، ادویه، البسه، خیمې او د سرپناه اړین توکي رسېدلي. هغوی زیاته کړه، د سروې تخنیکي ټیمونه په زیانمن شوو سیمو کې لا هم لګیا دي، څو په کره ډول د اوښتو ځاني او مالي زیانونو کچه معلومه کړي.

محترم ملا صاحب د دغه کمېسیون د ترسره شوو کارونو له امله مننه وکړه او ټینګار یې وکړ چې د سروې له بشپړېدو وروسته دې په سمدستي ډول پر زیانمنو هېوادوالو د اسلامي امارت له لوري په پام کې نیول شوې مرستې په شفاف ډول ووېشي.

په بلخ ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله په اوو ولسوالیو کې ۱۰ هېوادوال شهیدان او ۴۴۷ ټپیان شوي. دغه راز ۷۵۱ کورونه په بشپړ ډول نړېدلي، ۱۲۵۰ کورونه او ۱۲۰ د څښاک اوبو ذخیرې په نیمه ډول زیانمن شوي او همداراز ۴۲۷ څاروي هم تلف شوي دي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وکړ

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښار کې د دوه استوګنیزو او سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته یادې طرحې اړوندو ادارو ته راجع شوې او مسوولینو ته یې دنده وسپارل شوه، څو د یادو طرحو هراړخیزه ارزونه ترسره او راپور یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## تلاش برای انتقال آب از پنجشیر ، شاه‌توت و شاه‌وعروس به کابل

شرکت امارتی آبرسـانی و فاضلاب شهری اعلام کرده که پروژه‌ای بزرگ برای تأمین آب پاک شهر کابل آغاز شده است که بر بنیاد آن، آب از منابع دریای پنجشیر، شـاه و عروس و شاه‌توت اسـتخراج و به شهر انتقال داده می‌شـود. بـه گفته ی مسـوولان شرکت، برای اجرای این پروژه، سروی دقیق خانه‌به‌خانه در مناطق پلانی و غیرپلانی کابل آغاز شده تا شبکه‌ی توزیع آب به‌گونه‌ی کامل طراحی و اجرا شود. محمد انور مایار، انجیـنر سروی شرکت امارتـی آبرسـانی و فاضلاب شـهری، در این باره می‌گوید: «فعلاً ما در چهارقلعه رسـیدیم و در اینجا مصروف کار سروی هستیم و تیم دوم ما هم در کوچه‌ی سناتوریم در اطراف دارالامان کار می‌کننـد.» در همین حـال، رییس این شرکت با توجه به افزایش خشکسالی، کاهش منابع آب سطحی و زیرزمینی و همچنین رشد جمعیت در کابل، می‌گوید که بر بنیاد دستور مقام ریاست‌الوزرا، تلاش برای حل مشکل کمبود آب کابل با اجرای این پروژه‌ها آغاز شده است. غلام‌الرحمن کظیم، رئیس اجرایی این شرکت، در ایـن باره می‌افزاید: «از پنجشیـر که آب را انتقال می‌دهیـم، سروی آن در نواحـی ۱۷، ۱۱ و ۱۵ آغاز شـده، تاکنون نزدیک به ۸۰ درصد پیشرفت داشـته و پس از تکمیل ۲۰ درصد باقی‌مانده، کار دیزاین را آغاز می‌کنیم. همچنین از شاه‌توت که آب به کابل می‌آید، کار سروی آن هم در دو هفته‌ی اخیر آغاز شده و تلاش می‌کنیم که این پروژه تکمیل شـود تا نیاز مردم تأمین گردد.» در همین حال، شـماری از باشـندگان کابل از نبود قیمت مشـخص آب از سوی شرکت‌های خصوصـی شـکایت دارند، اما پـروژه‌ی تامین آب از منابع پنجشـیر و بندها را می‌ستایند. یکی از باشندگان کابل در این باره گفـت: «بین ۱۹ تا دو هزار بیل آب می‌آید و آب ما هم درست نیست، ما آب می‌خریم، اگر آب حکومتی بیاید، مشـکل ما حل می‌شود.» شرکت آبرسانی و فاضلاب شـهری همچنین تاکید کرده است که پس از اجرای کامل پروژه، تمامی شهروندان کابل از آب سـالم بهره‌مند خواهند شـد و از مردم خواسته اسـت که در صرفه‌جویی مصرف آب توجه کنند و چاه های جذبی برای ذخیره‌ی آب باران ایجاد نمایند.

## تلاش برای تقویـــت همکاری‌های زراعتی افغانستان و هند

در دیـدار میان وزیر زراعت، آبیـاری و مالداری امارت اسـلامی افغانستان و کاردار سـفارت هند در کابل، دو طرف روی گسـترش همکاری‌هـای دوجانبه در بخش هـای زراعت، آبیاری، مالداری، صـادرات محصولات زراعتی و واردات تجهیـزات میکانیزه بحث و گفت‌وگو کردند. در ایـن دیدار، عطاءالله عمـری از دولت هند خواسـت تا در زمینه‌ی تجهیـز لابراتوارهای زراعتی و مالداری، سـاخت چکدم‌ها، تقویت لابراتوارهای کنترل کیفیت محصولات و تسهیل صدور ویزا برای تاجران افغان همکاری کند. سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری و مالـداری، در این باره گفت:«وزیر زراعت تأکید کرد که افغانستان از خشکسـالی و تغییرات اقلیمی آسیب‌پذیر است و بر ضرورت تحقیقات علمی در تولید و رایج‌سازی ورایتی‌هـای مقاوم تأکید نمود.» در همین حال، کاردار سـفارت هند در کابل گفته که کشورش در تلاش ایجاد یک مرکز تحقیقاتی مشـترک زیر نام "افغان-هند" در افغانسـتان است و روی تطبیق پروژه‌های جدید زراعتی نیز کار می‌کند. کرن یادواف افزوده که برای ارتقای ظرفیـت متخصصان وزارت زراعت افغانسـتان، برنامه های آموزشـی حضـوری و آنلاین برگزار خواهد شـد. عبدالنصیر رشـتیا، آگاه مسـایل اقتصادی در این باره گفت: «هنـد علاقه‌مند اسـت تا روابط اسـتراتژیک سیاسی و اقتصادی خود را با افغانستان گسترش دهد تا از این مسـیر بتواند نفوذ بیشتری در آسیای مرکزی پیدا کند و از رقابت مستقیم با پاکسـتان فاصله بگیرد.» به گفته‌ی کارشناسـان، هند یکی از کشورهای پیشرفته در عرصه زراعت و تکنالوژی‌های نوین اسـت و گسـترش همکاری‌های این کشـور با افغانسـتان می‌تواند نقش مهمی در رشد پایدار اقتصاد زراعتی کشور داشته باشد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي

هفته‌نامه آبادی


# افزایش تجارت افغانستان از مسیر بندر چابهار

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که به‌منظور افزایش داد و ستد با کشورهای منطقه و جهان، در تلاش است تا تسهیلات لازم را برای بازرگانان افغان در بندر چابهار فراهم کند. به گفته‌ی محمد هاشم عمری، مشاور ارشد وزارت صنعت و تجارت، در حال حاضر انتقال کالا از طریق بندر چابهار با هزینه‌ی کمتر و در زمان کوتاه‌تر انجام می‌شود و این بندر می‌تواند به یک مسیر مطمئن برای تجارت افغانستان با هند و سایر کشورها تبدیل شود. او می‌گوید: «بندر چابهار از اهمیت بالایی در عرصه‌ی تجارت و ترانزیت برای افغانستان برخوردار است، زیرا این بندر به‌عنوان یک مسیر مطمئن، دسترسی مستقیم افغانستان به آب‌های آزاد خلیج فارس را فراهم می‌سازد.» وزارت صنعت و تجارت اعلام کرده است که در سال گذشته، به ارزش دو میلیارد و ۶۶۱ میلیون دالر از طریق بندر چابهار داد و ستد صورت گرفته است؛ از این میان، ۱۲۷ میلیون دالر صادرات افغانستان بوده است. آخندزاده عبدالسلام جواد، سخنگوی وزارت صنعت و تجارت، می‌گوید: «در نه ماه سال ۲۰۲۵، صادرات و واردات افغانستان از طریق میدان‌های هوایی کشور به ارزش ۲۷۵ میلیون دالر بوده که از این میان ۱۵۴ میلیون دالر صادرات و به ارزش ۱۲۱ میلیون دالر واردات است.» در همین حال، عبدالقاسم امرخیل، رییس اتحادیه‌ی صادرکنندگان میوه خشک، تأکید دارد که بندر چابهار در صادرات اقلام افغانستان، به‌ویژه میوه خشک به بازارهای هند، نقش مهمی ایفا می‌کند. در حالی‌که افغانستان بیشتر تجارت و ترانزیت خود را از طریق پاکستان انجام می دهد، مسدود شدن مکرر بنادر میان دو کشور، خسارات سنگینی به تجاران افغان وارد کرده است. آگاهان اقتصادی باور دارند که فعال‌سازی و توسعه‌ی مسیر چابهار می‌تواند جایگزینی مطمئن و باثبات برای تجارت افغانستان در منطقه باشد و زمینه‌ی گسترش ارتباطات اقتصادی با جنوب و آسیای مرکزی را فراهم سازد.

# پر پاکستان د سوداګرۍ د تکيې کمولو لپاره د هېواد صنعتکارانو ، سوداګرو او د ماليې محترم وزارت استازو په ګډون جوړې شوې غونډې ته د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وينا:

الحمدلله و کفی والسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الر حیم

قـال الله تعالی: إِنَّ اللّـهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّـى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ

د افغانستان اسلامي امارت د بېلابېلو ادارو محترمو مسوولينو، سوداګرو، پانګوالو، صنعتکارانو او په تالار کې حاضرو ټولو مېلمنو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

د الله تعالی له دربار څخه مو خوښي او ښه صحت غواړم!

## قدرمنو حاضرینو!

نن ورځ موږ او تاسې دلته د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د تجارتي اړیکو د پایداره مدیریت، په سوداګریز ډګر کې د افغانستان د ستراتیژیکي بقا، د ولس د ابرو او د هېواد د سیاست د مصؤن ساتلو په موخه د ځینو مهمو موضوعاتو په اړه سره راټول سوي یوو؛ ترڅو په دې برخه کې د هېواد محترمو تجارانو او اړوندو ادارو ته لازمي سپارښتني وکړو.

## ګرانو هېوادوالو!

له دې ستر واقعیت هېڅوک انکار نه سی کولی چې د نړۍ ټول هېوادونه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په موخه په مختلفو برخو کې له یو بل سره اقتصادي معاملاتو او اړیکو ته اړتیا لري او هېڅ هېواد نه سي توانېدلی چې خپلې ټولې اړتیاوې





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته نامه آبادی

په يوازې ځان پوره کړي. له بل لوري د اقتصادي ودې په پام کې نيولو سره په ډېرو برخو کې هېوادونه قصداً نه غواړي چې ځان بسياينې ته ورسېږي. نو په دې توګه سيمه ييز او نړيوال تجارت د ټولو هېوادونو ترمنځ مشترکه او واحده اړتيا ده او د ســوداګرۍ موخو ته په پــام بايد هېڅ ډول مشروع تجارتي اړيکې د نا معقولو سياستونو ښکار نه سي.

خو له بده مرغه په تېـــر عصر کې دا يو معمول ګرځېدلې چې تجارتي اړيکې، سوداګريزې لارې، اقتصادي بنديزونه او د مهاجرينو غير شرعي او غير بشري زجر د ســياسي نا معقولو وسيلو په توګه کاروي؛ ترڅو په مطلوب هېواد باندې ســياسي فشــارونه زيات او له خوږ ګوتي يــې ونيسي. دا فشارونه هغه وخت بحراني او سخت تماميږي چې يو هېواد د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره بديلې لارې ونه لري او ټوله تکيه يې يوازې په يو هېواد وي.

د الله تعالی ډېر شــکر ادا کوو چې افغانستان اوس مهال داســې يو هېواد دی چې د خپلو صادراتــو او وارداتو لپاره بېلابېلو لارو او دهليزونو ته لاسرســی لري، ټوله تکيه مو يــوازې په يو ځانګړي هېواد نه ده او د ســيمې او ګاونډيو هېوادونو سره مو د تېر په پرتله سوداګريز مناسبات او اړيکې په مراتبو پياوړې ســوې دي. د لارو دا تنوع موږ په عملي توګه له اقتصادي او سياسي فشارونو ژغوري. د لارو د تنوع او مناسبو پاليسيو په وسيله الله تعالی له هغه حالته ايستلي يو چې د يوه مسير له بندېدو سره به مو په هېواد کې د موادو قيمتونه پورته سول او پر ولس به بې فشار راتلی.

د افغانستان اسلامي امارت په مسلسله توګه هڅه کوي چې د سيمه ييز او نړيوال اتصال لپاره نوې بديلې لارې هم رامنځته کړي او شــته بديلې لارې له زيربنايي او تخنيکي اړخه معياري او باظرفيته کړي.

له بل لوري د افغانســتان اســلامي امارت تــل د ګاونډيو هېوادونو سره د اقتصاد محوره سياست په چوکاټ کې سالمې سوداګريزې اړيکې پاللې دي او تل به يې پالي؛ خو که نور هېوادونه زموږ له معقول سياست څخه ناوړه استفاده کوي، بيا موږ هم مجبور يو چې په بديلو لارو فکر وکړو.

په پــای کې غواړم چې په اصلي موضوع تمرکز وکړم او په پاکستان باندې د ســوداګرۍ د تکيې کمولو لپاره د هېواد صنعتکارانو، ســوداګرو او د ماليې محترم وزارت ته ځينې سپارښتنې وکړم:

### لومړی؛

د هېواد ټول صنعت‌کاران او ســوداګر دې د پاکستان پر ځــای له نورو بديلو لارو ســوداګرۍ ته مخه کړي. دې لارې نه يوازې زموږ تجاران زيانمن کړي؛ بلکې بازارونه او عام ولس يې هم له ســتونزو سره مخ کړی دی. زه له ټولو محترمو ســوداګرو څخــه په ټينګار غــواړم چې د صادراتــو او وارداتو بديل انتخابونه ژر عملي کړي، ترڅو مــو صادرات او واردات د خنــډ او ځنډ سره مخ نه سي. همــدارز هغه مواد چې تر اوســه مو په پاکســتان کې خريداری کــول، د خريــد او واردولو لپاره يــې د نورو هېوادونــو او مارکېټونو تلاش وکــړئ. د دې خبرتيا له لارې اسلامي امارت خپلې غاړې خلاصوي او په واضح ډول درته وايي چې که له دې خبرتيا وروسته هم تجاران مالونه د پاکستان له لارې واردوي او يا يې صادروي، د ستونزو د رامنځته کېدو په صورت کې يې اسلامي امارت هېڅ ډول مشکل ته رسېدنه نه کوي او نه يې غږ اوري.

### دوهم؛

په دې کې هېڅ شــک نســته چې زموږ د صحي ســکتور اساسي ســتونزه او په کلنې ډول د سلګونه ميليونو ډالرو وتلو اصلي علت له پاکســتان څخه د بې کيفيته دوا ورود دی. له پاکستان څخه د دوا واردوونکو څخه په ټينګار غواړم چې خپــل واردات مو له نورو هېوادونــو او نورو لارو څخه ترسره او ژر تر ژره له بديلو لارو اســتفاده وکړئ. که چا په پاکســتان کې قراردادونــه يا خريداری کــړې وي، درې مياشتې وخت ورکول کېږي، په همدې موده کې دې خپل ټول حسابونه هلته تصفيه او کار دې را ونغاړي.

دا چې پاکستان په کراتو د سوداګرۍ پر مخ لارې تړلې او اوس يــې هم تړلې دي، له تجــارتي او بشري موارد يې سياسي استفاده کړې او د دواړو هېوادونو تجاران او صنعت کاران يې متضرر کړي دي، اســلامي امارت اړ ســو چې پورتنــۍ پرېکړه وکــړي. که پاکســتان د لارو خلاصېدل غواړي، په داســې کلکــو او معتبرو تضمينونــو به ورسره خلاصېږي چې پــه هېڅ ډول حالاتو او شرايطو کې يې بيا ونه تړي.

### درېيم؛

د ماليې محترم وزارت ته هدايت کوم چې له درېيو مياشتو وروسته له پاکستان څخه واردېدونکې دوا محصول نه کړي او هېچا ته يې د واردولو اجازه ور نه کړي.

والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۶۶,۳۰ | ؋۶۶,۳۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۵ | ؋۲۲۵ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۵۹ | ؋۰,۶۰ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۶,۷۱ | ؋۷۶,۷۷ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۲ | ؋۰,۸۲ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۸ | ؋۷۴۹ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸۷,۰۰ | ؋۸۷,۰۷ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۷,۶۸ | ؋۱۷,۶۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۰۵ | ؋۱۸,۰۷ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۳۱ | ؋۹,۳۲ |